په افغانستان
کې د کاناډا ماموریت
www.afghanistan.gc.ca



# روغتیا

## افغانانو ته ښې روغتیایي مرستې



کاناډا د یو لړ پراخو پروژو سره مرسته کوي تر څو میندو او ماشومانو ته د روغتیايي خدمتونو په وړاندې کولو کې ښه والی راشي.

© د اغا خان بنسټ/ ساندرا کالیګارو

افغانستان په نړۍ کې د ډېرو لږو پرمختللو هېوادونو په ډله کې شمیرل کیږی. د دې هېواد ۴۲ سلنه خلک د نېستۍ د کرښې لاندې ژوند کوي او د ژوندانه متوقعه عمر یوازې ۴۵ کاله اټکل شوی دی. افغانستان په نړۍ کې د میندو د مړینې لوړه کچه لري، او یوازې ۱۴ سلنه ولادتونه د مسلکي روغتیایی کارکوونکې په مرسته ترسره کیږي. پولیو لا تر اوسه هم د کو چنی ماشومانو لپاره یوه ستونزه ده، دا ستونزه په خاصه توګه د هېواد په سویلي برخو کې زیاته ده.

### کاناډا څه کوي

کاناډا د خپلې هغې ژمنې د پوره کولو لپاره چې د ۲۰۱۰ لمریز کال د جي اته (G8) هېوادونو په غونډه کې د میندو، نوو زیږېدلو او د ۵ کلونو نه کم عمر ماشومانو د روغتیا لپاره د مسکوکا پروګرام نه ملاتړ کړې، کاناډا د افغانستان د روغتیایی خدمتونو پیاوړي کولو ته دوام ورکوي کوم چې لومړنیو روغتیايي مرستو او د روغتونونو خدمتونو ته په خاصه توګه د میندو، نوو زیږېدلو او تر ۵ کلنۍ پورې ماشومانو د لاس رسۍ د زیاتوالي له لارې ترسره کیږي. همداشان مونږ هڅه کوو تر څو د روغتیایی خدمتونو په برخه کې مسلکي ښځین کارکوونکې استخدام او وساتل شي.

د ګوزن د واکسیناسیون پروګرام ته د خپل هوډ په ساتلو سره، مونږ به په ټول افغانستان کې د ۵ کلونو څخه کم عمره ماشومانو ته د ګوزن د واکسین ورکولو پروګرامونو سره خپلو مرستو دوام ورکړو، او د ددی پروګرامونو له لارې به د نورو صحي خدمتونو وړاندې کول لکه د تغذیوي متمم خوراکي موادو ورکول او د حفظ الصحې په برخه کې تبلیغات وهڅوو.

د مېندو، نویو زیږېدلو او د ۵ کلونو څخه کم عمره ماشومانو د ښې تغذیې لپاره، د کاناډا هېواد د افغانستان د عامې روغتیا وزارت سره مرسته کوي تر څو په کلیو کې میشت روغتیایی خوراکي خدمتونه په خاصه توګه ځوانو انجون، امېدواورو میندو او تر دوه کلنۍ پورې ماشومانو ته برابر کړي.